AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۰/۱۱

# غـــزل

اوس خبره شوه څرګنده چې زما شوې
ما مجنون ته به نصيب ښکلې ليلا شوې

نور دې نوم سره زما نوم هم يادېږي
که هر څه يې خو زما ټوله دنيا شوې!

چې د دوو منځ کې ذکر زما او ستا شو
له هغه ځای د کيږدی شاته فنا شوې

په ما تور د ليونتوب پورې کړې ولې؟
چې کتلم به دې ته هم په هوا شوې

په لاسونو دې نکريزو کې زما نوم ګل
محبت دې راښکاره شو برملا شوې

تا ګيلې شروع کړې ما غاړه که درکړه
څنګه غلې شوې او څنګه ژر هوسا شوې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ